مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۶/۰۵/۱۷

# د افغانستان د اسلامي اِمارت مشرانو ته څلورم پرانیستی لیک

د اسلامي اِمارت محترمو مشرانو السلام علیکم.
ډېره موده کیږي چي ستاسي په عنوان مي پرانیستی لیک نه دی لېږلی. د دې خبري علت دا دی چي تاسي د خپل رژیم او د هغه د کړنو مخالفینو ته، چي زه هم له هغې جملې څخه یم، د دښمنانو په سترګه ګورئ او د هغوی پر خبرو او پیشنهادونو باندي غوږ نه نیسئ.
محترمو! تقریباً دېرش کاله مخکي مي د محترم مولوي وکیل احمد متوکل او د خپل مرحوم استاد پوهاند هاشمیان په مخکي ستاسي مشر ملامحمد عمر مجاهد ته وویل چي د افغانستان ټول خلک مسلمانان دي او د اسلامي نظام له عملي کېدلو سره هیڅ مخالفت نه لري خو د نظام په عملي کېدلو کي ستاسي د ملګرو له سلوک سره مخالفت لري او تاسي باور وکړئ چي ما په کندهار، کابل او جلال آباد کي ستاسي څخه یو سړی هم راضي ونه لیدئ. که دا وضعیت دوام وکړي نو لکه څرنګه چي خلک د مجاهدینو د ډلو ترمنځ جګړو تر پزي رسولي اوستاسي په قدرت راضي سول دغه راز به تاسي هم د خپلو خلکو د عام مخالفت په اثر له قدرته پرېوزئ.
دا خبره مي تاسي ته څو څو ځله کړې او یو ځل بیا یې درته تکراروم چي په نړئ کي هیڅ داسي نظام نسته او نه یې په تاریخ کي مثال سته چي د خپلو خلکو د عام مخالفت په مقابل کي ټینګ سوی او سقوط یې نه وي کړئ. ستاسي ملګري یا بهتره ده ووایم د امربالمعروف مامورین په عام بازار کي خلک توهینوي او وهي او حتی ځواني ښځي په عام بازار کي وهي او پوري وهي، چي د انساني کرامت په خلاف کارونه او اعمال دي او خلک به ستاسي د دغه رز اعمالو په مقابل کي تر ابده پوري چوپ پاته نه سي.
تاسي په خپله د جزا په اصولنامه کي دا خبره لیکلي وه چي که څوک له حنفی مذهب څخه بل مذهب ته اوړي نو هغه ته به دوه کاله د بند سزا ورکوله کیږي. ما په هغه وخت کي هم ستاسي هغه عمل محکوم کړی او اوس یې هم نه یوازي ظالمانه بلکه غیر اسلامي بولم. ځکه چي څلور واړه سني مذهبونه پر حق بلل سوي دي او یو سني مسلمان په څلورو واړو مذهبونو کي د انتخاب حق لري. ستاسي د عالي تحصیلاتو وزیر څو ورځي مخکي اعلان وکړ چي هیڅ څوک دا حق نه لري چي له حنفي مذهبه پرته د بل مذهب لپاره تبلیغ وکړي. دا د ټولني د خپه کولو معنی لري اوتاسي د دې حکم شرعاً جواز نه لرئ. تاسي به په کوم حق د کونړ له پنجپیریانو څخه، چي ځانونه تر تاسي ټینګ مسلمانان بولي، د خپلي مذهبي طریقي لپاره د تبلیغ کولو حق سلب کړئ؟
په افغانستان کي له شپږو څخه تر اوو میلیونو پوري شیعه ورونه اوسیږي. لکه څرنګه چي سنیان د افغانستان قانوني اتباع دي او هیڅوک یې له دې حق څخه محروموﻻی نه سي، شیعه ورونه د افغانستان د تابعیت په برخه کي له سنیانو سره مساوي حقوق لري.
ما د شیعه ورونو د یوه محترم مذهبي مشر آیت الله شریفي د تیري جمعې د ورځي د لمانځه خطبه واورېدله. هغه ویل چي ستاسي د امر بالمعروف مقاماتو هغه ور بللی او د متعه یا موقتي نکاح د ترلو په ګناه یې تحقیقات ورڅخه کړي او په سوک یې وهلی او بګړی یې پر مخکه لویدلی ده. که څه هم چي هغه له خپلو ټولو پیروانو یا د لمانځه په خطبه کي له حاضرو کسانو څخه وغوښتل چي باید له صبر او زغم څخه کار واخلي او عکس العمل ونه ښیي؛ خو د شیعه مذهب د پیروانو د توند عکس العمل د نه ښودلو ضمانت هیڅوک نه سي کوﻻی. دا وضعیت پر دغه حال نه پاتیږي. ستاسي سره د شیعه ورونو مخالفت اوس په نفرت تبدیل سوی دی. د نفرت حس په انسان کي ورځ په ورځ زیاتیږي او له یوه څخه بل ته انتقالیږي او د شپږو څخه تر اوو میلیونو انسانانو پوري د دښمنۍ په مقابل کي تاسي نه بلکه تر تاسي ډېر لوی قدرتونه هم ټینګیدﻻی نه سي.
زه د سلګونو زرو او حتی میلیونونو پښتنو په نمایندګي او په بشپړ مسوولیت دا خبره کوم چي نه ټول پښتانه او نه ټول کندهاریان طالبان دي. پښتنو د هیواد په شمال اوجنوب کي په کلونو کلونو له غیر پښتنو او له خپلو شیعه ورونو سره په سوله او ورور ګلوي کي ژوند کړی دی او چي تر څو پوري افغانستان موجود وي له ټولو سره به په سوله کي ژوند کوي. هر پښتون د پردیو د دسیسو ښکار نه دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

افغانستان د قومونو ګلدسته ده. په دې هيواد کي که پښتنو ته د خپلو اوسېدلو تاريخ څرګند نه دی او زرګونو کلونو ته يې رسوي. تاجک، اوزبيک، ترکمن، پشه يان، ايماق او . . . هم په دې خاوره کي په قرنونو اوسېدلي دي اوله پښتنو سره، له هره پلوه، مساوي حقوق لري. په دغه راز يوه ټولنه کي، چي له دومره زياتو قومونو څخه جوړه وي، د قدرت انحصار د هيڅ يوه قوم حق نه دی.
تاسي ټول قدرت پښتنو ملايانو او هغه هم زياتره د جنوب لوېديځي حوزې ملايانو ته سپارلی دی او په دې توګه مو د افغانستان نور قومونه او توکمونه له پښتنو او په تېره بيا د جنوب لوېديځو ولايتونو پښتنو ته بدبين کړي دي. يوه پښتانه ليکلي وه چي « که مرداره ده له کندهاره ده» ستاسي د عالي تحصيلاتو له وزير څخه مي، چي د ملا هبت الله په زوم والي افتخار کوي، واورېدل چي ويل يې زمونږ چي هر ډول حکومت زړه وغواړي هغسي حکومت کوو. خو په يويشتمه پېړۍ کي د دونه زور اوجبر فرصت نسته.
په دې حساب تاسي نه يوازي شيعه ورونه بلکه اکثريت پښتانه او نور شريف قومونه د ځانونو دښمنان کړي دي او د خپلو خيالي او ريښتونو مخالفينو په مقابل کي د تشدد او حتی وحشيانه اعمالو څخه د کار په اخيستلو سره خپلي د مرګ ورځي را نيژدې کوی.
ما هر وخت د طالبانو د رژيم له قهري سقوط سره مخالفت کړی دی او هغه هم ځکه چي د قهري سقوط په نتيجه کي داخلي جنګ پيل کيږي اوخدای مه کړه بيا به د لسهاوو او ښايي د سلهاوو زرو انسانانو د وژل کېدلو او تباهۍ سبب سي.
که تاسي د پښتنو او غير پښتنو اقوامو د حقوقو غصبولو ته په دغه اوسني شکل دوام ورکړی د هيواد سياسي قدرت يوازي پښتنو ملايانو ته خاص کړی او د عالی تحصيلاتو، معارف، کانو او صنايعو، مخابراتو او . . . مسلکي وزارتونه مو د غير مسلکي او ناپوهو کسانو په لاسونو کي وي او له خپلو خلکو سره د دښمنانو او غلامانو په څېر سلوک ته دوام ورکړی نو دا يو ځل بيا درته وايم چي افغانستان د تباهۍ کندي ته رهبري کوی.
و ما علينا الالبلاغ.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ